
صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

# شانِ مُصطَفٰی

22-October-2020



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# شانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

## نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ

(ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرود شريف فضيلت

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام سَخاوِي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نقل کوي چې: حُضُورِ انور، مَکّي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "**مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ صَلَاةً وَّاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا**، چا چې په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اوليږلو **الله** پاک په هغه لَس رَحمتونه نازلوي، **وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ عَشْرًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ مِاءَةً** او څوک چې په ما لَس ځله دُرود شريف اوليږي، **الله** پاک په هغه سَل رحمتونه نازلوي، **وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ مِاءَةً كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ بَيْنَ عَيْنَيْهِ بَرَاءَةً مِّنَ النِّفَاقِ وَبَرَاءَةً مِّنَ النَّار** او څوک چې په ما سَل ځله دُرود شريف اوليږي، **الله** پاک د هغه د دواړو سترګو د مينځه اوليکي چې دا بنده د نِفاق او د دوزخ د اور نه بَري دے، **وَاَسْكَنَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الشُّهَدَاء** او د قِيامت په ورځ به هغه د

شهيدانو سره ساتي.“[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

| | |
|---|---|
| اے شہنشاہِ مدینہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام | زینتِ عرشِ مُعلّٰی اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام |
| مومنو پڑھتے نہیں کیوں اپنے آقا پر دُرود | ہے فرشتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام |
| میں وہ سُنّی ہوں جمیلِؔ قادری مرنے کے بعد | میرا لاشہ بھی کہے گا اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام[2] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**محترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”**نِیَّۃُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِہٖ**“ د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[3]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

❁ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بيان واورئ ❁ پوره تَوَجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوكړئ ❁ كه قلم او ډائرې لرئ نو د اَهَمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هُم اوكړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... القول البدیع، الباب الثانی فی ثواب الصلاۃ علی رسول اللہ... الخ، ص ۲۳۳

2... قبالۂ بخشش، ص164

3 .... معجم کبیر سھل بن سعد الساعدی... الخ، ۱۸۵/۶، حدیث ۵۹۴۲

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د اجتماع د بیان موضوع ده ”**شانِ مُصطَفیٰ** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم“. په دې بیان کښې به مونږ اورو: چې وَنې د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره څنګه رواني شوې؟، د عِزّت او کَرامَت د ټولو نه زیات اسباب څه دي؟ د جَنَّت او د دوزخ د کُنجیانو مالِک څوک دے؟ د شفاعت حاصلولو بهترینه ذریعه څه ده؟ او د دې نه علاوه به د عِشقِ رَسُول نه مالامال نورې ډیرې فائده مندې خبرې هُم د اوریدلو سعادت حاصلوو. اِنْ شَآءَاللّٰه

| | |
|---|---|
| وہ خَتْمُ الانبیاء تشریف فرما ہونے والے ہیں | نبی ہر ایک پہلے سے سنا تا یہ خبر آیا |
| رَبیعِ پاک تجھ پر اہلِ سنت کیوں نہ قرباں ہوں | کہ تیری بارہویں تاریخ وہ جانِ قمر آیا |
| چلو اے مُفلِسو جو آج مانگو گے وہ پاؤ گے | کہ صدقہ بانٹتا ارض و سما کا تاجور آیا [1] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وَنې د حُضُور ﷺ په اِطاعت کښې رواني شوې

د حضرتِ سَیِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې مونږه رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره روان شو، تر دې چې په یوه فراخه دَره [یعني د دوو غرونو د مینځه ځائے] کښې مو پړاؤ واچولو. حُضُورِ اَقدَس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قضائے حاجت د پاره تشریف یوړلو، ما د اوبو لوښے راواغستو او په حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پسې شا ته روان شوم. هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخوا دیخوا نظر مبارک اوکرځولو خو د ستر او پردے د پاره څه څیز ښکاره نه شو. ناڅاپه د دَرے غاړې ته دوه وَنې ښکاره شوې. حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغو کښې د یوې [وَنې] خوا ته تشریف یوړلو، د هغې د څیلو نه ئې یوه څیله او خاخ اونیولو او ورته ئې اُوفرمائیل: ”د **الله** پاک په حُکم ما سره زما په اِطاعَت [یعني

---

[1] ... قبالۂ بخشش، ص65

فرمانبرداریٔ] کښې روانه شه“ هغه وَنه د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره سر ښکته کړي داسې روانه شوه څنګه چې د پېزوان والا اوښ د خپل قائد سره سر ښکته کړے روان وي، تر دې چې هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بلې وَنې خوا ته تشريف راوړلو او د هغې خاخ ئې اونيولو او ورته ئې اُوفرمائيل: ”د **الله** پاک په حُکم زما اِتّباع اوکړه او ما پسې راروانه شه“ هغه ونه هُم د وړومبۍ وَنې په شان په حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې روانه شوه تر دې چې دواړه [وَنې يوې بلې ته] نزدې شوې او خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي تر مينځه اودريدلو او حُکم ئې ورکړو، د **الله** پاک په حُکم را يو ځائے شئ او په ما پرده جوړه کړئ چنانچه هغه دواړه د يوې بلې سره اولګيدلې.

حضرت جابِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زه په منډه د هغه ځائے نه اُووَتلم چې چرې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما د نزدې کيدلو د احساس په وجه نور د لرې تللو تکليف اُو نه فرمائي. زه لرې لاړم او کښيناستلم او په يو خيال کښې ورک شوم. چې ناڅاپه مې اوکتل نو حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راروان دے تشريف راوړي او هغه دواړه وَنې جُدا شوي دي او په خپل خپل ځائے ولاړې دي. [1]

اپنے مولیٰ کی ہے بس شان عظیم — جانور بھی کریں جن کی تعظیم
سنگ کرتے ہیں ادب سے تسلیم — پیڑ سجدے میں گرا کرتے ہیں [2]

د شعر وضاحَت: د **الله** پاک د آخري نبي، **مُحَمَّدِ عَـرَبِـي** صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان داسې عظيم دے چې ځناور هُم د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعظيم کوي او کانړي ئې هُم احترام کوي او دُرُود و سلام پرې وائي او ونې ئې په دربار کښې حاضرېږي او سجده کوي.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1 ...الوفا، ابن جوزی، مترجم، ص ۳۴۴، لاہور

2... حدائق بخشش ص ۱۱۲

# شانِ مُصطَفٰی ﷺ

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ د آقا، مَکّي مَدَني مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مقام او مرتبه د ټولو نبیانو نه اوچته ده، د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان به څه وائې! د خوږ نبي **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دا دے چې هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه وخت هُم وو چې کله زمکه او آسمان هُم نه وو جوړ شوي او دا ټول جهان هُم نه وو جوړ شوے. پخپله فرمائي: ”د ټولو نه مخکښې **الله** پاک زما نُور پیدا کړو او هُم زما د نُور نه ئې هر څیز پیدا کړو“.

زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دا دے چې د حضرتِ جَبرئیل عَلَیْهِ السَّلَام نه ئې تپوس اوفرمائیلو: ستا عُمر څومره دے، [جبرئیل امین عَلَیْهِ السَّلَام] عرض اوکړو: په څلورم حِجابِ عظمت کښې (70) اویا زره کاله پس یو ستورے راخیژي، ما هغه (72) دوه اَویا زره ځله لیدلے دے. [حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] اُوفرمائیل: اے جِبرئیل! هغه ستورے زه یم. دا دے شانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، چې **الله** پاک فرمائي: چې تاسو نه وے نو ما به دُنیا نه وے پیدا کړي. شانِ مُصطَفٰی دا دے چې زمونږ د خوږ خوږ نبي **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُوم حضرتِ آدم عَلَیْهِ السَّلَام د ځان د پاره وسیله جوړ کړو. شان مُصطَفٰی دا دے چې خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګوتې مبارکې په اِشاره سپوږمئ دوه ټُکړے کړه . شان مُصطَفٰی دا دے چې حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لرګے [د بلب په شان] روښانه کړلو او صحابهٔ کرام د هغې په رڼړا کښې کورونو ته اورسیدل. شان مُصطَفٰی دا دے چې صحابي ته ئې یو لرګے په لاس کښې ورکړو نو هغې د تُورې په شان د کافرانو څټونه کټ کول شروع کړل. شان مُصطَفٰی دا دے چې د بعضې [نارِینه] د پاره ئې سره زر حلال کړل او د بعضې کس ګواهي ئې د دوو برابر قرار کړه.

یارَسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو شان خو دا دے چې ټول ستاسو حاجت مند دي هيڅ څوک هُم ستاسو نه بے نیازه کیدے نه شي.

سیِّدي اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي.

خلیل اللہ کو حاجت رسول اللہ کی ہے　　وہ جہنم میں گیا جو اُن سے مستغنی ہوا [1]

**د شعر مختصر وضاحت:** زما د آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان خو دا دے چې د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه هيڅ څوک هُم نه شي بے نیازه کیدلے، څوک چې بے نیازه شي د هغه ځائے به جَهنَّم وي ځکه چې د هغوئي حاجت خو انبیائے کرام هُم لري او د **الله** پاک خلیل ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام هُم د هغوئي مُحتاجه دے.

## د عِزَّت و کرامَت د ټولو نه زیات اَسباب

امام فخرُ الدِّین رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د کُفّارو هلاک کولو د پاره صرف یوه فرښته کافي ده ځنګه چې د حضرت لُوط عَلَیْهِ السَّلَام د قوم ښارونه د حضرت جِبرِیل عَلَیْهِ السَّلَام د وزرو نه په یو وزر باندې تباه و برباد کړے شو او د حضرت صالِح عَلَیْهِ السَّلَام د قوم ثمود علاقے صرف په یوه چغه تباه کړے شوې، خو **الله** پاک په ټولو نبیانو عَلَیْهِمُ السَّلَام باندې، تر دې چې په **اُولُو الْعَزم** یعني صاحِبِ هِمَّت او اوچتې اِرادے لرونکو رسولانو باندې ئې هُم په هر څیز کښې خپل حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته فضیلت عطا کړے دے او **الله** پاک خپل حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د کرامت او اعزاز هغه اَسباب عطا کړي دي چې بل چا ته ئې نه دي عطا کړي، په هغو کښې یو دا دے چې د آسمان نه ئې لښکرې راکوزې کړې او په آیت کښې ئې "**وَمَآ اَنْزَلْنَا**" او "**وَمَا كُنَّا مُنْزِلِیْنَ**" فرمائیلو باندې لکه چې دې طرف ته اشاره اوفرمائیله چې اے حبیب! صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، د فرښتو لښکر نازلول انتهائي عَظَمت والا کار دے چې د دې د پاره ستاسو نه علاوه بل څوک

[1]... حدائقِ بخشش ص ۱۵۲

اهلیت نه لري او مونږ به ستاسو نه علاوه د بل چا د پاره داسې اونکړو.[1]

| | |
|---|---|
| خدا نے اس قدر اُونچا کیا پایہ محمد کا | نہ پہچانا کسی نے آج تک رُتبہ محمد کا |
| بحکمِ حق اترتے ہیں فرشتے خاص رحمت کے | کِیا کرتے ہیں جب اَہلِ سُنَن چرچا محمد کا |
| نہیں ہے جو غلامِ مصطفٰے بندہ ہے شیطاں کا | وہی ہے بندۂ حق جو ہوا بندہ[2] محمد کا |
| جمیلِ قادری ایسی سُنا، رنگیں غزل کوئی | کہ بے خود ہو یہاں ہر ایک مستانہ محمد کا[3] |

## حُضُور ﷺ مالِک و مُختار دے

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږ د نُور والا آقا، مَكِّي مَدَنِي مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه اعلٰی شان دے چې الله تعالٰی هغوئي د شرعي اَحکامو مالِک و مُختار جوړ کړے رالیږلے دے هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې چا ته څه حُکم غواړي ورکولے شي، د چا د پاره چې څه څيز غواړي جائز یا ناجائزه کولے ئې شي، پاره 22 سورۃُالاحزاب آیت نمبر 36 کښې اِرشاد کیږي:

| | |
|---|---|
| وَ مَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّ لَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ ؕ وَ مَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴿۳۶﴾ | [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: او یو مسلمان نارینه او یوې مسلمانې زنانه ته [دا حق] نه رسي چې کله الله او د هغه رَسُول څه حُکم اُوفرمائي نو کښې هغوئي ته دِ د خپلې مُعامَلے څه اختیار وي او څوک چې حُکم اُو نه مني د الله او د هغه د رَسُول، هغه بیشکه ګمراه شو په ښکاره ګمراهۍ. |

[1] ... تفسیر قرطبی، یس، تحت الآیة: ۲۸، ۸ / ۱۸، الجزء الخامس عشر

[2] [بنده بمعنیٰ غُلام]

[3] ... قبالۂ بخشش، ص ۵۰تا۵۳

تفسير صِراطُ الْجِنان جِلد 8 کښې دي: د دې آيت نه دا هُم معلومه شوه چې حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله** پاک په عطا په شَرعي اَحکامو کښې خود مُختاره دے. هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې چا ته څه اوغواړي حُکم ورکولے شي، د چا د پاره چې څه خيز اوغواړي جائز يا ناجائزه کولے ئې شي او څوک چې د کوم حُکم نه اوغواړي جُدا کولے ئې شي.[1] په حضرتِ سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام باندې نازِل شوي مُقَدَّس کتاب "زَبُور شريف" کښې دي: اَحمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مالِک شو د ټولې زمکې او د ټولو اُمَّتونو د څښتونو.[2]

اللّٰه اللّٰه! شَہِ کونین جلالت تیری

فرش کیا عرش پہ جاری ہے حکومت تیری[3]

| | |
|---|---|
| آقا کی آمد مرحبا | داتا کی آمد مرحبا |
| مولیٰ کی آمد مرحبا | اَولیٰ کی آمد مرحبا |
| اعلیٰ کی آمد مرحبا | والا کی آمد مرحبا |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د جَنَّت او دوزخ کُنجانې ئې په لاس مبارک کښې ورکړې

مُفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل مالِک نه ګڼړي هغه به د سُنَّتو د خوږوالي نه محرومه اوسي، ټوله زمکه د مَکِّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مِلک ده، تمام جَنَّت د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جاګِير دے،

---

1...... تفسیر صراط الجنان، پ۲۲، الاحزاب، تحت الآیۃ:۳۶، ۸/۳۵.

2... فتاویٰ رضویہ، ۳۰/۴۴۵.

3... ذوقِ نعت، ص۲۴۷.

مَلَكُوْتُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (يعني د آسمانونو اور زمکې ټوله بادشاهی) د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان تر لاندې (يعني حُکم منلو والا) دي، حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جَنَّت او دوزخ کُنجياني [چابياني] په لاس مبارک کښي ورکړے شوي، رِزق او خير او د هر قِسمه عطاګاني د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دربار نه تقسيميږي، دُنيا او آخرت د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عطا يوه حِصَّه ده.[1] رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل **ربّ** تعالیٰ په عطا د جَنَّت مالِک دے، جَنَّت عطا کوونکے دے، چا ته چې غواړي ور عطا ئې کړي.[2] د بخاري شريف په حديث نمبر 17 کښي **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَّاللهُ يُعْطِيْ يعني **الله** ئې ما ته عطا کوي او زه ئې تقسيموم.[3]

رَبّ ہے مُعطی یہ ہیں قاسم     رِزق اُس کا ہے کھلاتے یہ ہیں
اُس کی بخشش اِن کا صَدقہ     دیتا وہ ہے دِلاتے یہ ہیں[4]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## چې کوم طرف ته به ئې اِشاره فرمائيله سپوږمۍ به هُم هغه طرف ته ښکته شوه

د **الله** پاک په عطا مالِک و مُختار، د **الله** په کرم په غيبو خبردار نبي (يعني د غيبو علم لرونکي) صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لمر سترګې ته حُکم ورکړو چې څه ساعت اودريږه هغه فوراً اودريدله.[1]

---

[1]... بہارِ شریعت، ۱/۸۱-۸۳، حصہ: ۱.

[2]... فتاویٰ رضویہ، ۱۴/ ۲۶۷.

[3]... بخاری، کتاب العلم، باب من یرد الله به خیرا یفقه فی الدین، ۱/۴۲، حدیث: ۷۱.

[4]... حدائقِ بخشش، ص۴۸۱-۴۸۲.

د عاشقانو د امام، اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمانِ عالیشان خُلاصه ده: دا حدیث د هغه حدیث نه علاوه دے په کوم کښې ئې چې د مولا علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پاره د لـمر سترګې ته د اودریدلو [یعني بیرته په شا د راتللو] حُـکم اِرشاد فرمائیلے وو. اَلْحَمْدُلِله دې ته خِلافَتِ رَبُّ الْعِزَّت وائي. په ټول مخلوقِ اِلٰهی باندې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حُـکم اِطاعَت او فرمانبرداري لازِمه ده هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خُدائے [حبیب] دے او څه چې د الله دي هغه ټول د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي. هغوئي [د الله پاک] د ټولو نه لوئ محبوب (یعني ګران) دے، د پيئ ښځلو په دوران کښې [یعني هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماشوم والي کښې به هُم] سپوږمئ د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غُلامي کوله (یعني فرمانبرداري به ئې کوله) چې کوم طرف ته به ئې اِشاره کوله هُم هغه طرف ته به ښکته شوله، چې د پيئ ښځلو په دَوران کښې ئې دومره زبردست حکومت وو نو بیا (د اعلانِ نُبُوَّت نه پس) چې د خِلافَةُ الْكُبْرىٰ ظهور په خپل کمال دے نو بیا د لـمر څه مجال دے چې د هغوئي د حُـکم نه مخ واړوي (یعني فرمانبرداري اونکړي).[2]

چاند اِشارے کا ہِلا حکم کا باندھا سورج
واہ کیا بات شہا تیری توانائی کی[3]

---

1... معجم اوسط، باب العین، من اسمه علی، ۱۱۶/۳، حدیث: ۴۰۳.

2... فتاویٰ رضویہ، ۳۰/۴۸۵-۴۸۸ ملخصاً.

3... حدائقِ بخشش، ص۱۵۴.

د شعر مختصر وضاحت: سُبْحٰنَ الله! زمونږ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه طاقت او اختیارات دي چې د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګوتې مبارکې اِشاره اوشوه نو سپوږمۍ داسې اخوا دیخوا تلله لکه د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اشارے سره چې د مخکښې نه عادت وي (څنګه به چې په مبارک ماشوم والي کښې سپوږمۍ د هغوئي د زړه خوشحالولو د پاره د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګوتې مبارکې د اِشارے سره اخوا دیخوا حرکت کولو)

یارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لـمر سترګه هُم ستاسو د حُکم تابِع ده چې د حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د یو لـمانځه د پاره مو پریوتلې سترګه بیرته را اوګرځوله.

| | |
|---|---|
| مُنوّر کی آمد مرحبا | مُعطّر کی آمد مرحبا |
| شاہِ بحر و بر کی آمد مرحبا | رسولِ انور کی آمد مرحبا |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اَحکام حُضُور ﷺ ته حواله دي

حضرت عَلّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اَحکامِ تشریعیة (یعني د حلال او حرام احکام) د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په قبضه کښې ورکړے شوي دي چې په چا باندې څه غواړي حرام کړي او د چا د پاره چې څه غواړي پرې حلال ئې کړي او کوم فرض چې غواړي ورته معاف ئې کړي.[1]

عَلّامه زَرقاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: الله پاک حُضُورِ پُرنُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنیا او آخرت د ټولو زمکو مالِک جوړ کړے دے، حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې د جَنَّت د

1 ... بہارِ شریعت، ۸۴/۱، حصہ: ۱.

زمکې نه څومره غواړې چا له غواړې ور عطا ئې کړې نو د دُنيا د زمکې به څه تذکره کوو [يعني د دُنيا زمکه څه څيز دے]! [1]

## د احکامو د مالک کيدلو دوه رِوايات

د رَحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اختياراتو مُتَعَلِّق دوه حديثونه عرض کووم: (1) د صحيح مُسلِم په حديث شريف کښې دي: د **الله** پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خُطبه اولوستله او اُوئې فرمائيل: اے خلقو! په تاسو حج فرض کړے شو لِهذا حج اوکړئ. يو کس عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا هر کال؟ حضور عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام خاموشي اُوفرمائيله، هغوئې درې ځله دا تپوس اوکړو. [خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] اِرشاد اُوفرمائيلو: که ما آو وئيلے وے نو په تاسو به واجِب شوے وو او تاسو به نه شوے کولے. (يعني که ما آو وئيلے وے نو په تاسو به هر کال حج فرض شوے وے او تاسو به دا نه شوے کولے) [2] (2) د بُخاري او مُسلِم په حديث کښې دي چې حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: که ما په خپل اُمَّت بوج نه ګڼړلے نو هغوئې ته به مې د هر لمانځه سره يا د هر لمانځه په وخت کښې د مِسواک [کولو] حُکم ورکړے وے. [3]

کنجی تمہیں دی اپنے خزانوں کی خدا نے ‏ ‏ ‏ محبوب کیا مالک و مختار بنایا
اللہ کی رَحمت ہے کہ ایسے کی یہ قسمت ‏ ‏ ‏ عاصی کا تمہیں حامی و غمخوار بنایا [4]

---

[1]... شرح زرقانی علی المواهب اللدنية، الفصل السادس فی امرائه و رسله... الخ، ۴۹/۵.

[2]... مسلم، کتاب الحج، باب فرض الحج مرة فی العمر، ص۵۳۶، حديث: ۳۲۵۷.

[3]... ترمذی، ابواب الطهارة، باب ما جاء فی السواک، ۱/۱۰۰، حديث: ۲۳.

[4]... ذوقِ نعت، ص۴۸.

# حضور ﷺ به د شفاعت دروازه بيرته کوي

په يو حديثِ پاک کښې د ”تورَيت شريف“ نه د حضور نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا اوصاف (يعني صفتونه) منقول دي: زما د بنده اَحمدِ مُختار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائش ځائے مَکّه مُکرَّمه او د هجرت ځائےمدينه طيبه دے، د هغوئي اُمَّت په هر حال کښې د **اللّٰه** کثير (يعني ډير صِفَت) کوونکي دي.[1] د قيامت په ورځ د شَفاعتِ کُبریٰ مرتبه د حُضُور سرورِ کائنات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خصوصياتو کښې ده چې تر څو حضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت دروازه برسيره نه کړي تر هغې به بل چا ته د شفاعت مجال نه وي، بلکه حقيقتاً چې څومره شفاعت کوونکي دي هغوئي به د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دربار ته شفاعت راوړي، شَفاعتِ کُبریٰ د مُؤمِن، کافر، فرمانبردار او ګنهګار ټولو د پاره دے يعني د قيامت په ورځ د حساب شروع کيدلو انتظار چې ډير زيات سخت به وي، خلق به وائي چې کاش! جَهنَّم ته دې غوزار کړے شو خو چې د دې انتظار نه خلاص شو، د دې مصيبت نه خلاصے به کافرو ته هُم د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر ملاويږي او په دې وجه به مخکښې او وروستو راتلونکي ملګري او مُخالِفِين، مُؤمِنِين او کافِرِين ټول د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صِفَت کوي، د هُم دې نوم ”**مقامِ محمود**“ دے .[2]

کیا ہی ذوق افزا شفاعت ہے تمہاری واہ واہ قرض لیتی ہے گنہ پرہیز گاری واہ واہ

---

[1]... تاريخ ابن عساكر، باب ما جاء من ان الشام يكون ملك اهل الاسلام، ۱/۱۸۶، ۱۸۷.

[2]... بہارِ شریعت، ۱/۷۰، حصہ: ا بتغیرِ قلیل.

| | |
|---|---|
| مکّی کی آمد مرحبا | مَدَنی کی آمد مرحبا |
| عَرَبی کی آمد مرحبا | قُرَشی کی آمد مرحبا |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د شفاعت مختلف قِسمونه

**اے عاشقانِ مِیلاد!** د شفاعت نور قسمونه هُم دي، مَثَلًا ډېر به داسې وي چې بے حسابه به جَنَّت ته [د شفاعت په ذریعه] داخل کړے شي، د ځلور اربه او نوي کروړه شمیر خو معلوم دے او د دې نه ډېر زیات نور دي چې هغه د **اللّٰه** پاک او د هغه د حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په عِلم کښې دي [یعني بے حسابه جَنَّت داخلیدونکي]، ډېر به هغه هُم وي چې د هغوئي حساب به شوے وي او د جَهنَّم مُستحِق شوي به وي، د هغوئي شفاعت به کوي او د جَهنَّم نه به ئې بچ کړي او د بعضو شفاعت به اوکړي د جَهنَّم به ئې را اُوباسي، او د بعضو درجات به اوچتوي او د بعضو نه به عذاب کم کړي، د هر قِسمه شفاعت د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره ثابت دے. د شفاعت مَنصب حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ورکړے شوے دے څنګه چې د بُخاري شریف په حدیث نمبر 335 کښې **شَفِیْعُ الْمُذْنِبِیْن** [یعني د ګنهګارو شفاعت کوونکے] خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: **اُعْطِیْتُ الشَّفَاعَةَ** یعني ما ته شفاعت را کړے شو. [1]

## د درُود شریف وئیوونکي د پاره شفاعت

په حدیث شریف کښې دي: چا چې دا اُووئیل: "**اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ**"[2] د هغه د پاره زما شفاعت واجب شو. [1]

---

[1]... بخاری، کتاب التیمم، باب التیمم، ۱/۱۳۳، حدیث: ۳۳۵.

[2]... اے اللّٰه! حضرت محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې رَحمت نازِل کړې اور هغوئي ته د قیامت په ورځ په خپله بارګاه کښې مُقرَّب مَقام عطا کړې.

زمونږ ګنهګارانو شفاعت کوونکي خوږ مَکّـي مَدَني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: چا چې په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درود شریف اووئیلو هغه ته به د قیامت په ورځ زما شفاعت نصیب کیږي.[2]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د شفاعت حاصلولو یوه بهترینه ذریعه

**اے عاشقانِ رَسُول!** د الله پاک د آخري نبي مَکّـي مَدَني **مُحَمَّدِ** عَـرَبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت حاصلولو یوه بهترینه ذریعه کثرت سره دُرود شریف وئیل هُم دي، یعني ډیر ډیر درود شریف وئیل هُم د شفاعت بهترینه ذریعه ده. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د نیک جوړیدلو طریقه په نوم د "**نیک اعمال**" رساله کښې هُم هره ورځ کم از کم د 313 ځله درود شریف وئیلو ترغیب ورکړے شوے دے- څومره به ښه وي چې مونږ د کوم خوږ آقا مَکّـي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جشنِ وِلادت خوشحالئ لـمانځو [یعني مناوو] په هغه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې هره ورځ کم از کم د 313 ځله درود شریف وئیلو عادت جوړ کړو!

راځئ چې د شفاعت سوال کولو د پاره ټول په شریکه دُرودِ شفاعت اُووائیو، **الله** پاک دې مونږه د خپل خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت نه نه محرومه کوي: "**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ**"

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

---

[1]... معجم کبیر، رویفع بن ثابت الانصاری، ۵/۲۵، حدیث: ۴۴۸۰.

[2]... مجمع الزوائد، کتاب الاذکار، باب مایقول اذا اصبح و اذا امسی، ۱۰/۱۶۳، حدیث: ۱۷۰۲۲.

# د لُعابِ دَهَن کمال

اے عاشقانِ رَسُول! سیّدِ عالم نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو جهانونو د پاره رحمت جوړ کړے شوے تشريف راوړے دے، د هغه رحمت دا شان وو چې **الله** پاک د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په لُعابِ دَهَن (يعني لاړو مبارکو) کښې هغه بَرَکت اينښودے وو چې په هغې کښې د زخميانو او بيمارانو د پاره شِفاء وه او د هغې په بَرَکت به د زهرو اثر هُم ختميدلو. چنانچه چې کله د **الله** پاک حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غارِ ثور ته اورسيدلو نو مخکښې حضرتِ سيّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غار ته ورداخِل شو، صفائي ئې اوکړه، ټول سُوري ئې بند کړل، آخري دوه سُورو د پاره ئې څه څيز اُو نه موندلو نو هغې ته ئې خپلې ښپې کيښودلې او بند ئې کړل، بيا ئې رسُولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دننه د تشريف راوړلو درخواست اوکړو: رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دننه تشريف يوړلو او د خپل وفادار يارِ غار و يارِ مزار صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په ورون ئې سر مبارك کيښودلو او آرام فرما (يعني اوده) شولو. په هغه غار کښې يو مار وو هغه [مار صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ] په ښپه اوچيچلو خو قربان د عشق و مَحَبَّت د هٰغه اعلٰي نمونے نه چې د درد د زياتوالي او تکليف باوجود ئې صرف په دې وجه چې د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په آرام او راحت کښې خلل را نه شي بالکل داسې خاموشه وو چې حَرَکت ئې هُم نه کولو، خو د تکليف د زياتوالي په وجه ئې بے اِختياره د سترګو مبارکو نه اوښکې روانې شوې او چې د اوښکو يو څو څاڅکے د محبوبِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخ مبارك باندې قُربان شو نو رسولِ بيمثال صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رابيدار شولو او تپوس ئې اوکړو: اے ابوبکر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) ولے ژاړې؟ حضرتِ سيّدُنا ابوبکر صِدِّيقِ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مار چيچلو واقعه عرض کړه. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ

عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مار چیچلي ځائے باندې خپل لُعابِ دَهَن (یعني لاړې مبارکې) پورې کړې نو فوراً درد ختم شو او زخم هُم ښه شولو.[1]

دغسې د حضرت عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د سترګو بیمارئ د پاره لُعابِ دهن [یعني لاړې مبارکې] د سترګو شفاء جوړې شولې، د حضرت رفاعه بن رافع رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سترګه د جنګِ بدر په ورځ په تِیر اولګیدله او سترګه ئې اُووتله خو د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په لُعابِ دهن داسې جوړ شولو چې درد ئې هُم ختم شو او د سترګې بینائي ئې هُم برقراره پاتې شوه.

د حضرت ابو قَتاده رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مخ په تیر اولګیدلو نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرې لُعابِ دَهَن اولګولو نو فوراً وِینه هُم بنده شوه او بیا ټول ژوند هغوئي کله په تِیر او تُوره نه وو زخمي شوے.

**اے عاشقانِ رَسُول!** حضور نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **اللّٰہ** پاک دومره مُعجزات ورکړي وو چې د هغې شمیر تر اوسه پورې چا بیان نه کړے شو، د نهمې صدئ هجرئ بزرګ حضرت علامه جلال الدین سُیُوطی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ چې د 500 نه زیات کتابونه ئې تصنیف کړي دي، هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د 20 کالو سخت کوشش نه پس د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خصائصو باندې کتابونه اولیکل چې په هغو کښې د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو زرو (1000) نه زیات مُعجزات بیان شوي دي، او دا ټول مُعجِزات نه دي بلکه د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُعجزاتو نه څه مُعجِزات دي.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان ډیر اوچت دے-

**د نبي کریم** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د شان به څه وائې چې اللّٰہ** پاک هغوئي د ټولو نبیانو عَلَیْہِمُ السَّلَام نه مخکښې پیدا کړلو او د ټولو نه آخره کښې ئې دُنیا ته را اولیږلو.[1]

---

[1]… تفسیر روح البیان، پ۱۰، التوبه، تحت الآیة: ۴۵۳/۴،۱۰۳

۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې په عالَمِ اَرواح کښې **الله** پاک نُبُوَّت ورکړے وو او په هُم هغه جهان کښې د نورو انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام روحونو د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رُوحِ انور نه فيض حاصل کړو.[2] ۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې په عالَم اَرواح کښې د نورو انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام د رُوحونو نه **الله** پاک عهد واخستلو چې که هغوئي د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمانه اومومي نو په هغوئي دې ايمان راوړي او د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدد دې اوکړي.[3] ۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې د هغوئي نوم مبارک د عرش په ښپه او په هر آسمان او د جَنَّت په ونو او محلاتو باندې او د حُورو په سينو باندې او د فرښتو د سترګو تر مينځه ليکلے شوے دے.[4] ۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُوم مُبارک **مُحَمَّد** د **الله** پاک د نوم **مَحمُود** نه اَخذ شوے دے.[5] ۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې د هغوئي د اَسمائے مبارکه نه تقريباً اَويا (70) نومونه هُم هغه دي کوم چې د **الله** پاک نومونه دي ۩ **د نبي کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائي** چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو نُوم **اَحمد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه مخکښې تر کومه راستې چې دُنيا پيدا شوي ده د بل هيڅ چا دا نُوم نه وو چې په دې خبره کښې هيڅ چا ته څه د شک او شُبهے ګُنجائش پاتې نه شي چې د قرآنِ مجيد نه مخکښې آسماني

---

[1]…المواهب اللدنية مع شرح زرقانی، المقصد الاول…الخ، فی تشريف اللّٰه تعالٰی له…الخ، ج۱، ص۷۶.

[2]…المواهب اللدنية مع شرح زرقانی، المقصد الاول…الخ، فی تشريف اللّٰه تعالٰی له…الخ، ج۱، ص۶۳.

[3]…المواهب اللدنية مع شرح زرقانی، المقصد الاول…الخ، فی تشريف اللّٰه تعالٰی له…الخ، ج۱، ص۷۷.

[4]…الخصائص الکبرٰی، باب: خصوصيته بکتابة اسمه الشريف مع اسم اللّٰه تعالٰی..الخ، ج۱، ص۱۳۱۲.

[5]…الخصائص الکبرٰی، باب: اختصاصه صلی اللّٰه عليه وسلم باشتقاق اسمه الشريف…الخ، ج۱، ص۱۳۴

کتابونو کښې چې کوم د اَحمد ذِکر دے هغه هُم دوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے.[1] **د نبي کریم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائې** چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپلې شا ته هُم داسې لیدل څنګه به ئې چې مخې ته لیدل. د شپے به ئې په تیاره کښې داسې لیدل څنګه به ئې چې د ورځې په رنړا کښې لیدل. **د نبي کریم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائې** چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لُعابِ دهن [یعني لاړو مبارکو] به تراوې اوبه خوږې کړلې او د پئو د ماشومانو د پاره به ئې د پئو کار کولو.[2]

**د نبي کریم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائې** چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې بشر دے چې د بدن سَورے ئې نه وو ځکه چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور هُم دے او د نُور سَورے نه وي. **د نبي کریم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائې** چې **الله** پاک هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل شریعت مُختارِ کُل جوړ کړے دے، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د چا د پاره څه غوارې حلال ئې کړي او د چا د پاره چې څه غوارې حرام ئې کړي. **د نبي کریم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د اوچت شان به څه وائې** چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوریدلو قُوَّت د ټولو نه زیات وو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د آسمانونو نه د فرښتو د وَزَرو آوازونه اوریدل، او حضرتِ جِبرائیل عَلَيْهِ السَّلَام به چې لا په **سِدرةُ المُنتهٰی** کښې وو نو خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغوئي د وَزَرو آواز واوریدلو او چې کله به هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د وَحي راوړلو د پاره راکوزیدل شروع کړل نو د هغوئي په خوشبو به پوهه شولو. دغسې د آسمان د دروازو بیرته کیدلو آواز به ئې هُم اوریدلو.

| | |
|---|---|
| حکیم کی آمد مرحبا | عظیم کی آمد مرحبا |
| اچھے کی آمد مرحبا | پیارے کی آمد مرحبا |

1... شرح الزرقانی علی المواهب، المقصد الثانی...الخ، الفصل الاول فی اسمائه...الخ، ج۴، ص۲۳۴,۲۳۲ ملخصًا.

2... الخصائص الکبریٰ، باب: الایات فی فمه الشریف وریقه واسنانه، ج۱، ص۱۰۵

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# 12 نيکو اعمالو کښې يو نيک عمل ”صَدائے مدينه“

اے عاشقانِ رَسُول اسلامي ورونړو! ❖ د الله پرهيزګار بندګان بيمارې د الله رحمت ګڼړي ❖ د الله پرهيزګار بندګان د بيمارئ په وجه د پريشانئ اظهار نه کوي ❖ د الله پرهيزګار بندګان بيمارئ کښې هُم د الله په رضا باندې راضي اوسي ❖ د الله پرهيزګار بندګان بيمارئ کښې هم بے صبري او ناشُکري نه کوي ❖ د الله پرهيزګار بندګان خپل مصيبتونه او بيمارئ پټوي ❖ د الله پرهيزګار بندګان بيمارئ کښې هُم د **الله** شُکر ادا کوي ❖ د الله پرهيزګار بندګان بيمارئ کښې هُم ګيلے قيصے نه کوي. لِهذا مونږ ته هُم پکار دي چې د الله د پرهيزګارو بندګانو په نقشِ قدم روان شو او بيمارئ کښې د شُکر او صبر نه کار اخلو، د **الله** په رضا باندې راضي اوسو او هر چا ته خپل درد تکليف نه بيانوو بلکه د بيمارئ بَرَکتونه حاصل کړو.

د **الله** د پرهيزګارو بندګانو په نقشِ قدم باندې د چليدلو جذبه حاصلولو او د بيمارئ حقيقي بَرَکتونه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مَدَني تَحرِيك دعوتِ اسلامي سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ او د ذيلي حلقے دولس مَدَني کارونه په ځان باندې لازِم کړئ. دولس مَدَني کارونو کښې يو مَدَني کار ”صدائے مدينه“ هُم دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه د **دعوتِ اسلامي** د مرکزي **مجلسِ شُورىٰ** له طرفه د دې مَدَني کار رِساله په نوم د ”صدائے مدينه“ منظرِ عام ته راغلې ده.

12 مَدَني کارونو کښې د دې مَدَني کار يعني د ”صدائے مدينه“ باره کښې تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه** رِساله ”صدائے مدينه“ اولوَلئ، ټول اسلامي ورونړه او بِالخصوص تنظيمي ذِمَّه داران دا رساله ضرور اولوَلئ، دا رساله د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه** د

بستے نه طلب کولو سره سره د دعوتِ اسلامي ويب سائټ باندې هُم لوستلے شئ.

د دې رسالے د مطالعے په بَرَکت به تاسو ته دا معلومات حاصل شي، ❖ صدائے مدينه څه ته وائي؟ ❖ صدائے مدينه کښې مسلمانانو د پاره دُعا ❖ د صدائے مدينه دُنيوي فائدے ❖ د صدائے مدينه يو څو مَدَني ګلونه ❖ کوڅه کښې د صدائے مدينه لګولو طريقه ❖ د صدائے مدينه مدني سپرلي وغيره وغيره.

اَلْحَمْدُلِلّٰه ❖ د "صدائے مدينه" په بَرَکت د تَهَجُّد د لـمانځه سعادت حاصليدے شي ❖ د صدائے مدينه په بَرَکت د لـمانځه حفاظت کيږي ❖ د "صدائے مدينه" په بَرَکت د جُمات ورومبي صَف کښې تکبيرِ اُولٰی سره د سحر د لـمانځه ادا کولو سعادت حاصليدے شي ❖ د "صدائے مدينه" په بَرَکت "د نيکۍ دعوت" ورکولو ثواب هم ګټلے شي. ❖ د "صدائے مدينه" په بَرَکت د عاشقانِ رسول مَدَني تَحريك دعوتِ اسلامي مشهوري او نيك نامي کيږي ❖ "صدائے مدينه" لګولو والا مسلمانانو ته بيا بيا د حج او خوږے مدينے ليدلو دُعا کوي، که الله اوغواړي نو دا دُعاګانې به د هغه په حق کښې هُم قبولې شي.

❖ "صدائے مدينه" کښې د پيدل ګرځيدو په وجه به ستاسو صحت هُم ښه کيږي، دا يوه اضافي فائده ده، نِيَّت صرف د ثواب پکار دے ❖ د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې مسلمانان د سحر لـمانځه ته راپاڅولو ته "صدائے مدينه" لګول وائي او مسلمانان د سحر لـمانځه ته راپاڅول سُنَّتِ مُصطَفٰی او سُنَّتِ صحابه نه ثابِت دي، چنانچه

اَميرُ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ به چې [سحر] جُمات ته راروان وو نو [په لاره راتلو راتلو کښې به ئې] د سحر د لـمانځه د پاره خلق راپاڅول.
(طبقاتِ کبریٰ، ذکر استخلاف عمر، ۳/۲۶۳مفهوماً)

## د نګرانِ شورىٰ حاجي محمد عمران ايپ (Application) تعارُف

دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د دِين په تبليغ کښې مصروفِ عمل دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ (I.T Department) د عاشِقانِ رَسُول د پاره يو ډير شاندار کار کړے دے چې د نګران شورىٰ حاجي محمد عمران عطاري مَدَّظِلُّہُ الْعَالِی په نوم ئې هُم يو ايپ، په نوم د **مولانا محمد عمران عطاري** په صورت کښې کړے دے دا ايپ لاؤنچ شوے دے، په دې کښې د حاجي محمد عمران عطاري مَدَّظِلُّہُ الْعَالِی آډيو (Audio)، ويډيو (Video) بيانات، شارټ کلپ، مختلف مصروفيات، مدنی چينل ريډيو ، ډاؤن لوډ، د سرچ او شيئر نګ سهولتونه موجود دي.

په دې ايپليکيشن کښې په مَدَني چينل کيدونکي پروګرامونه هُم شامل کړے کيږي. په دې کښې د موجود "Chat Live" آپشن په ذريعه تاسو خپلې فائده مندې مشورے هُم ورکولے شئ، لِهذا نن دا موبائل ايپلي کيشن د پلے سټور يا ايپ سټور نه ډاون لوډ کړئ او نورو ته هُم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د لباس ١٤ مَدَني ګلونه

اَوَّل درې فرامِينِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوګورئ: ❀ د پيري د سترګو او د خلقو د سِتر په مينځ کښې پرده دا ده چې کله څوك جامې ويستل غواړي نو [مخکښې دِ] بِسْمِ الله اولولي. (المُعجَمُ الاَوسط ج٢ ص٥٩ حديث٢٥٠٤) مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: څنګه چې ديوالونه او پَردے د خلقو د نظر نه پناهي جوړيږي دغسې به دا د الله تعالیٰ ذِکر د پيريانو د سترګو نه پرده جوړيږي او شيطان به هغه (يعني شرمګاه) نه شي ليدلے. (مِراٰة ج١ص٢٦٨)

❀ څوك چې جامې واغوندي او دا اولولي: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ كَسَانِىْ هٰذَا وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ

غَيْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ (ترجمه: ټول صِفَتونه الله تعالیٰ لره دي چا چې ما ته دا جامې واغوستلې او زما د طاقت او قُوَّت نه بغير ئې ما ته عطا کړې) نو د هغه تير شوي او راروان ګُناهونه به معاف شي. (شُعَبُ الایمان ج5 ص181 حدیث 6285) ✿ څوك چې د قدرت [يعني وَس لرلو] باوجود ښے جامې اغوستل د تواضُع (يعني د عاجزئ) په طور پرېږدي، **الله تعالیٰ** به هغه ته د ګَرامت حُلّه وراغوندي. (ابوداؤد ج٤ ص٣٢٦ حدیث ٤٧٧٨) ✿ د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك لباس به اکثر د سپينې کپړے وو. (کَشْفُ الْاِلْتِبَاس فِی اِسْتِحْبَابِ اللِّبَاس لِلشَّیخ عبدُالحق الدِّھلَوی ص٣٦) ✿ لباس د حلالې ګټې پکار دے او کوم لباس چې د حرامې ګټې نه حاصل شوے وي، په هغې کښې فرض او نفل يو لمونځ هم نه قبليږي. (ایضًا ص٤١) ✿ **منقول** دي: چا چې په ناسته عِمامه اوتړله يا ئې په ولاړه سَراوِيل (يعني پاجامه يا پرتوګ) واغوستو نو **الله تعالیٰ** به هغه په داسې مرض کښې اخته کړي چې د هغې علاج نشته. (ایضًا ص٣٩) ✿ د اغوستلو په وخت کښې د ښي طرف نه شروع کوئ (چې دا سنّت دي) مثلاً چې کُرته [يا قميص] اغوندئ نو مخکښې په ښي لِستونړي کښې ښے لاس داخلوئ بيا ګڅ لاس په ګڅ لِستونړي کښې. (ایضًا ص٤٣) ✿ هم دغسې پاجامه [يا پرتوګ] اغوستلو کښې مخکښې په ښئ پينڅه کښې ښئ ښپه داخلوئ او چې کله (قميص يا پرتوګ) اوباسئ نو د دي برعکس (يعني برخِلاف) کوئ، يعني د ګڅ طرف نه شروع کوئ. ✿ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي ادارے مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ١١٩٧ صفحو کتاب **بهارِشريعت**، جلد ٣، صفحه ٤٠٩ کښې دي: سُنَّت دا دي چې د لمَن اوګږدوالے د پنډئ د نيمې پورې او د لِستونړي اوګدوالے زيات نه زيات د ګوتو د پستو سرونو پورې او پلن والے ئې يو لويشت پکار دے. (ردُّالمُحتار ج٩ ص٥٩٧) ✿ سُنَّت دا دي چې د نارينه تهبند يا پاجامه [يعني پرتوګ وغيره] د ګيټئ [يعني پړکو] نه بره وي. (مِراٰة ج٦

ص۹٤) ❁ نارینه دِ د نارینۀ او ښځې دِ د ښځو جامې اغوندي، په ورو ماشومانو کښې هم د دې خبرې لحاظ ساتئ ❁ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي اِدارے مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۱۲۵۰ صفحو کتاب **بهارِ شریعت** جِلد اَوّل صفحه ٤٨١ کښې دي: د نارینه د پاره د نامه د لاندې نه واخله د زنګنونو د لاندې پورې "عورت" (یعني پرده) ده، د دې پټول فرض دي. نوم په دې کښې شامِل نه دے او زنګنونه پکښې شامِل دي. (دُرِّمُختار،ردُّالمُحتار ج۲،ص۹۳) په دې زمانه کښې ډېر خلق داسې شته چې تهبند یا پرتوګ داسې اغوندي چې د سپوږمو (یعني د نامه لاندې راوتلې ځائ) څه حصه ئې پکښې ښکاري، که په کُرته [یعني قمیص] وغیره کښې داسې پټ وي چې د پوستکي (یعني څرمنې) رنګ پکښې نه ځلیږي نو خیر دے، ګني حرام دي او که په لمانځه کښې د څلورمې حصې په قدر ښکاره وو نو لمُونځ نه کیږي (بهارِشریعت) خصوصًا د حج او د عُمرے اِحرام والؤ ته په دې کښې د سخت احتیاط ضرورت دے. ❁ نن صبا بعضې خلق په ښکاره د خلقو په مخکښې جانګے (نیم پتلون) اغوستے ګرځي او په هغې کښې د هغوئې زنګنونه او ورنونه ښکاري دا حرام دي، د داسې خلقو ښکاره زنګونانو او ورنونو ته کتل هم **حرام** دي. بِالخصوص د لوبو په میدان، د ورزش کولو ځایونو کښې او د سمندر په غاړه داسې نظارے زیاتې وي. لِهٰذا داسې مقاماتو ته په تګ کښې سخت احتیاط ضروري دے- ❁ د **تکبُّر** په طور چې کوم لباس وي هغه ممنوع [یعني منع] دے. تکبُّر شته او که نه، د دې پیژندګلو دِ داسې اوکړي چې د دې کپړو [یعني جامو] اغوستلو نه مخکښې چې د ده کوم حالت وو، که د اغوستلو نه وروستو هم د ده هُم هغه حالت وي نو معلومه شوه چې په دې جامو کښې تکبُّر پیدا نه شو. خو که هغه حالت ئې اوس نه وي پاتې نو بیا تکبُّر پیدا شو. لِهٰذا! د داسې جامو نه دِ ځان بچ

ساتي ځکه چې تڪبُّر ډېر خراب عيب دے. (ردُّالمُحتار ج ۹،ص۵۷۹،بھارِشریعت ج۳ ص۴۰۹)

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب ''بهارِشريعت'' حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب ''سُنّتیں اور آداب'' او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے ''101 مدنی پهول'' او ''163 مدني ګلونه'' هديةً واخلئ او د دې مُطالَعه اوکړئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي هغه به د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې داخليدلو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې

کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُود شریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

3... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

په شریکه اووائیو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شو چې دا څوك اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دا چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

### ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[3]

---

1... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

3... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۲۵۴/۱۰، حدیث:۱۷۳۰۵

راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حدیث: ۴۴۱۵